ترتیب کونکی : الحاج داکتر امین الدین «سعیدی – سعید افغانی»

۲۰ اپریل ۲۰۲۰

## د نظافت ساتنه په ساری امراضو کی

په دی کی شک نشته چی د خوراک څښاک په مورد کی د ځان ساتنې او احتیاط په وجوب کی داسلام مقدس شرعیت دیر تاکید کړی دی ، پدی هکله ډیر دلایل دي او په ځانګړي ډول هغه احادیث چې د لوښو او ظروفو د پټولو په هکله راغلي دي، همدارنګه هغه احادیث چې هغې کې د علاج امر شوی یا هم د لاسونو او خولې د مینځلو امر شوی، په همدې توګه هغه احادیث چې په لارو، او ونو لاندې او عامه ځایونو کی د لوي او وړوکي قضاء حاجت څخه منع راغلی تر څو نور خلکو ته یی بدې اغیزې ونه رسیږي.

نو اسلام دین د داخلی او خارجی د پاکوالي او نظافت دین دی، الله تعالی فرمایی:«وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ» (مدثر:آیه ۴ ) یعنی جامې او کالی دی پاک کړه، په همدې توګه الله تعالی فرمایي: «إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ» (دبقری سوره ۲۲۲ ) یعنی الله تعالی د توبه کوونکو او نظافت لرونکو سره مینه کوي.

همدا ده چی اسلام د اودس، غسل او د کورونو او د میدانونو په نظافت او صفایی ټینګار کوي.

د دغه دلایلو څخه یو هم د ابو ذر رضی الله تعالی عنه حدیث دی : عن أبي ذر رضی الله تعالی عنه: عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُ أُمَّتِي حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا فَوَجَدْتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الْأَذَى يُمَاطُ عَنْ الطَّرِيقِ وَوَجَدْتُ فِي مَسَاوِي أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَكُونُ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ». یعني: ابو ذر رضی الله عنه وایي چې نبي علیه السلام فرمایلی دي: ماته زما دامت نیک او بد اعمال را وړاندې شول، ما په نیکو اعمالوکې د لارې څخه د خزلو لرې کول هم ومیندل، او د بدو اعمالو تر مینځ مې هغه بلغم ولیدل چې په مسجد کی ښکاره پراته و او چا ورباندې خاورې هم نه وې اړولې.